مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت ۲۰۲۵/۱۲/۱۲

# درد مې تر مرۍ رارسیدلی دی

درد مــې تــر مرۍ را ســـیـدلـــی دی
لــر ګاونډۍ غـم مـوږ تـه لـیـږلی دی

کړي د مرګ ګوځارراته په ځار ناست دی
تــار يــې د نیـــستي را غــځــولــی دی

وژني مو، بیـا غـږ پـر نـړیـوالـو کړي
مـکر کـې ابـلـیس نـه مخـکې تـللی دی

څه کم پنځوس کاله و ناورین پر موږ
هر نـاتـار یـې موږ تـه پنځـولی دی

ظلـم يـې تـاريـخ کې سـاری نـه لري
ټـول انــســانـيـت يـــې لـــړزولـــی دی

کړي وحشت هیتلر، چنګیز نه مخکې دي
خپل پـوځ اسـرایـئل تـه يـې لیږلـــی دی

هـر قدم د کفـر پـر لار ســم اخـلــي
دي خوا يـې د مرګ دام غـوړولی دی

نـه لـــري ذره د تـــرحـــم نـښـــه
نــوم د مـسلمـان نـه لـرې تللی دی

داغ يـــې د اسـلام پر جـامه ایـښـی دی
هر مـظلـوم انـســان يـــې ژړولـــی دی

يو قـدم چي مخکي شو، سوځـیـري بـیـا
بـد ګاونډۍ اور پـــر مـــوږ شینـدلی دی

لاري د خــلاصون تــه يــوو په فکر کې
درد او رنځ يي تـل موږ تـه لیـږلی دی

عـقل پـو هـه وایـي پـیـوسـتـون وکــړئ
که نه وي نــو يي بــل غــم را کړلی دی

يو که نه شو پوه شئ چي وخت تیر به وي
هر قــدم کــې نــوی دام خــرلی دی (۱)

---

۱ـ خرلی - خپور کړی.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ